حل : څرنګه چې د ۹۴۶٫۰ کسر د مميز د علامې څخه وروسته درې رقمه لري نو د ۳۸٫۰ د کسر ښي خواته يو صفر زياتوو چې د دې کسر د رقمونو شمېر د مميز له علامې څخه وروسته هم درې رقمه شي : ۳۸٫۰ = ۳۸۰٫۰ اوس د دې کسرونو

رقمونه داسې ليکو چې د مميز علامه ئې يو تر بل لاندې راشي وروسته د طبيعي عددونو په شان د جمعې عمليې ته دوام ورکوو او د جمعې په حاصل کښې د مميز علامه د کسرونو د مميز تر علامو لاندې ليکو .

$$\begin{array}{r} ٠٫٩٤٦ \\ + \quad ٠٫٣٨٠ \\ \hline ١٫٣٢٦ \end{array}$$

او يا کولای شو چې هغه په يوه خط کښې سره جمع کړو . $٠٫٩٤٦ + ٠٫٣٨٠ = ١٫٣٢٦$

٢ - مثال : د ٣٥٫١١٢ او ٦٫٢٣٤ اعشاري عددونه سره جمع کو و .

حل : څرنګه چې د دواړو اعشاري عددونو د مميز د علامې نه وروسته رقمونه سره يو شانته دي نو د صفرونو زياتولو ته ضرورت نشته . او

د جمعې عملیې ته د مخکنې سوال په شان دوام ورکوو.

$$\begin{array}{r} ۳۵٫۱۱۲ \\ + \quad ۶٫۲۳۴ \\ \hline ۴۱٫۳۴۶ \end{array}$$

او یا ۳۵٫۱۱۲ + ۶٫۲۳۴ = ۴۱٫۳۴۶

۳ - مثال: د ۰٫۶۷۵ اعشاري کسر او د ۹۴٫۱۶۵ اعشاري عدد یو له بل سره جمع کړو.

حل:

$$\begin{array}{r} ۹۴٫۱۶۵ \\ + \quad ۰٫۶۷۵ \\ \hline ۹۴٫۸۴۰ \end{array}$$

او یا ۹۴٫۱۶۵ + ۰٫۶۷۵ = ۹۴٫۸۴۰

۴ - مثال: د کلاشینکوف د مرمیو دیو صندوق وزن ۱۱٫۵۰ کیلوګرامه دئ او د دهشکې د مرمیو دیوه صندوق وزن ۶٫۵ کیلوګرامه دی د دواړو صندوقونو وزن څو کیلوګرامه کېږي؟

حل: د دواړو صندوقونو وزن سره جمع کوو.

څرنګه چې: ۱۱٫۵ = ۱۱٫۵۰ نو

$$\begin{array}{r} ۱۱٫۵۰ \; + \\ ۶٫۵۰ \\ \hline ۱۸٫۰۰ \end{array}$$

٥ ـ مثال : د مجاهدينو دوو گروپونو خپلې خوراکې د برابرولو لپاره للمي غنم سره وکرل که لومړي گروپ ٣٦٥،٥ کيلوگرامه او دوهم گروپ ٢٩٨،٢٢٥ کيلوگرامه للمي غنم کرلي وي نو دواړو گروپونو څو کيلوگرامه غنم کرلي دي .

حل : څرنگه چې : ٣٦٥،٥ = ٣٦٥،٥٠٠ دي

نو

```
   ٣٦٥ ، ٥٠٠  +
   ٢٩٨ ، ٢٢٥
  ─────────────
   ٦٦٣ ، ٧٢٥
```

٦ ـ مثال : که ديوه ټوک کتاب قيمت (١٢،٧٥) افغانۍ او ديوه جلد کتابچې قيمت (٨،٥) افغانۍ وي او ديوه قلم قيمت (٣٥،٢٥) افغانۍ وي د ټولو قيمت څو افغانۍ کيږي ؟

حل :

```
   ١٢ ، ٧٥  +
   ٣٥ ، ٢٥
    ٨ ، ٥٠
  ───────────
   ٥٦ ، ٥٠
```

تمرین

۱ : لاندې اعشاري کسرونه او عددونه سره جمع کړئ.

۷٫۹ + ۷٫۲۱ ، ۱۷٫۳ + ۲۸٫۴۲

۳۹٫۲۵ + ۴۸٫۹ ، ۰٫۸۱ + ۰٫۹۵

۷٫۳۸ + ۸٫۵۶ + ۴٫۳۷ ، ۴٫۹ + ۸٫۳ + ۷٫۵

۰٫۴ + ۳٫۵۱ + ۲٫۲۵ + ۰٫۷۶

$$\begin{array}{r} 29.6 \\ +\ 18.94 \\ \hline \end{array} \qquad \begin{array}{r} 15.68 \\ +\ 9.4 \\ \hline \end{array} \qquad \begin{array}{r} 0.15 \\ +\ 0.97 \\ \hline \end{array}$$

$$\begin{array}{r} 129.453 \\ 12.3 \\ +\ 24.6 \\ \hline \end{array}$$

۲ ـ د مجاهدینو په یوه جبهه کښې ۵۱۲،۴۶۵ کیلوګرامه وریجې د مجاهدینو د خوراکي لپاره موجودې

دي . که یو نفر ۳۲۴٫۴۳۲ کیلوگرامه وریجي نوره

کومک وکړي په نوموړي جبهه کې به څو کیلو

گرامه وریجي موجودي وي ؟

۳ - د مجاهدینو ګروپ تصمیم لري چې

د دښمن په یوه پوسته باندې برید وکړي نو

د دې کار لپاره لې په لومړي ورځ ۲۳٫۵۴۵

کیلومتره لاره ووهله او په دوهمه ورځ لې ـــ

۱۴٫۸۹۳ کیلومتره لاره ووهله او د دښمن پوستې

ته ورسیدل . معلوم کړئ چې مجاهدینو ټوله څو

کیلومتره لاره وهلې ده ؟

۴ - د یوې لارې غنمو وزن ۴۳۲۴٫۵۶۸

کیلوگرامه او د بلې لارې د غنمو وزن ۴۱۵۶٫۴۹۵ کیلو

گرامه دئ . د دواړو لاریو د غنمو وزن څو کیلو

گرامه کیږي .

۵ ـ د پلار تر مرگ وروسته زوی ته ۴۸۶۲۴,۴۸ افغانۍ او لور ته ۲۴۳۱۲,۲۴ افغانۍ میراث ورسیده معلوم کړی چې له پلار څخه په میراث پاتې نقدې پیسې څو وې ؟

۶ ـ یوسړی خپله ځمکه په تراکتور اړوي که په لومړۍ ورځ ۳۲,۵۸ جریبه ځمکه په دوهمه ورځ ۲۶,۶۴۵ جریبه ځمکه او په دریمه ورځ ۲۵,۶ جریبه ځمکه واړوي نو معلومه کړی چې ټوله اړول شوې ځمکه څو جریبه ده ؟

۷ ـ محمود، حامد او محسن غواړي چې په گډه سره د پلاستیک جوړولو فابریکه جوړه کړي که ددې کار لپاره محمود ۴۵۶۷۴,۹۵ افغانۍ حامد ۶۴۷۸۶,۳۵ افغانۍ او محسن ۹۶۷۸۹,۹۵ افغانۍ برابرې کړي نو معلومه کړی چې ټولې برابرې شوې پیسې څو افغانۍ کیږي ؟

۸ - هغه عدد پیدا کړئ چې که له هغه څخه د ۳۵۳۴۶٫۷۸۹ عدد را کم کړو نو د ۱۳۷۵۴٫۴۲۶ عدد په لاس راشي ؟

۹ - که یو مجاهد دوه آسه په (۹۰٫۶۵۹۲۴) افغانۍ یو د مرمیو کمربند په (۳۲۵٫۵۴) افغانۍ او یو د اوبو پتک په (۶۵٫۴) افغانۍ واخلي نو معلوم کړئ چې ټولې لې څو افغانۍ په مصرف رسولې دي ؟

داعشاري کسرونو او عددونو تفریق :

د دې لپاره چې یو اعشاري کسر او یا عدد له بل اعشاري کسر او یا عدد څخه تفریق کړو نو د جمعې په شان لازمه ده لاندې مرحلې مراعات کړو.

۱ - د دواړو اعشاري کسرونو او یا عددونو د هغو رقمونو تعداد چې د ممیز د علامې نه وروسته دي

۸ - د (الف، څخه تر ع، د الفبا د تورو

سټ و لیکئ .

۹- په ریاضي کښې سټ په کومو طریقو سره

ښیي ؟ هره طریقه په مثال کښې وښیئ .

۱۰- په دغه دوه سټونو

{المسجد الحرام ، المسجد الاقصی ، المسجد النبوي (ص)}

او {المسجد النبوي (ص) ، المسجد الاقصی ، المسجد الحرام}

کښې څه توپیر وینئ ؟

آیا دواړه عین شی دي او که فرق لري ؟

۱۱ - آیا {۱، چوکه، +} سټ او {چوکۍ، +، ۱}

عین شی دي او که سره توپیر لري ؟

۱۲ - د لاندې سټونو څخه هر یو څو عنصرونه

لري ؟ د هر سټ د عنصرو نومونه واخلئ .

۱ = {د بدر غزا، د احد غزا، د خندق غزا، د خیبر فتح، د مکې فتح، د موته غزا، د حنین غزا، د تبوک غزا}

د صفر په زیاتوالي سره برابرو .

۲- مفروق تر مفروق منه لاندې دا رنګه

لیکو چې د هغو د ممیز علامې یو تر بل لاندې راشي .

۳- د تفریق عملیه لکه د طبیعي اعداد و تفریق

یوله بله سره ترسره کړو .

۴- د تفریق په حاصل کښې د ممیز علامه

د مفروق او مفروق منه د ممیز تر علامو لاندې

ږدو .

۱- مثال : د دې لپاره چې ۲۳٫۷۵ اعشاري

عدد د ۴۵٫۹ اعشاري عدد څخه تفریق کړو

داسې عمل کوو :

حل : څرنګه چې ؛ ۴۵٫۹ = ۴۵٫۹۰ دی

نو

۴۵٫۹۰ −
۲۳٫۷۵
۲۲٫۱۵

آیا کولای شو چې د تفریق عملیه

په یوه کرښه کې ترسره کړو؟

د مثال په توګه ۹۰٫۴۵ − ۶۷٫۲۵ = ۲۳٫۲۰

۲ - مثال: د ۸۵۶٫۰ کسر له ۹۷٫۰ کسر څخه تفریق وو.

حل: څرنګه چې ۹۷٫۰ = ۹۷۰٫۰ دي.

نو
$$
\begin{array}{r}
۰٫۹۷۰ - \\
۰٫۸۵۶ \\
\hline
۰٫۱۱۴
\end{array}
$$
او یا ۰٫۹۷۰ − ۰٫۸۵۶ = ۰٫۱۱۴

۳ - مثال: د یوه مستطیل اوږدوالی ۱۵٫۵ سانتي متره او پسور یې ۸٫۷۵ سانتي متره دي. د مستطیل داوږدوالي او پسور فرق معلوم کړئ؟

حل:
$$
\begin{array}{r}
۱۵٫۵۰ - \\
۸٫۷۵ \\
\hline
۶٫۷۵
\end{array}
$$

۴ - مثال: مجاهدینو د سیم له یوه لین څخه چې اوږدوالی یې ۲۵۸٫۲۵ متره دی د ۱۳۴٫۷۵ مترو په اندازه سیم یې د ضد ټانګ مین د چاودنې لپاره

راپرې کړ معلوم کړئ چې څومره سیم پاتې دی ؟

حل : ۲۵۸/۲۵ —
۱۳۴/۷۵
———
۱۲۳/۵۰

۵ ـ مثال : یو مجاهد د (۵۰۰) متري راکټ انداز سره (۶۵۰/۷۵) متره لرې له سرک څخه سنګر نیولی دی لپاره چې د راکټ انداز مرمۍ د دښمن ټانګ له مینځه یوسي نو باید څومره نور سرک ته نږدې سنګر ونیسي ؟

حل : ۶۵۰/۷۵ —
۵۰۰/۰۰
———
۱۵۰/۷۵

۶ ـ مثال : مجاهدینو د هاوان او کلاشینکوفو څو مرمۍ په (۹۴۸/۵) افغانیو واخستلې که د کلاشینکوفو د مرمۍ بیه ۶۹۵/۲۵ افغانۍ وي نو د هاوان د مرمیو بیه معلومه کړئ ؟

حل: ۹۴۸،۵۰ -
۶۹۵،۲۵

۲۵۳،۲۵

تمرین

۱- لاندې اعشاري کسرونه او عددونه یو تربله تفریق کړی.

۰،۴۶ له ۰،۵ څخه، ۰،۶ له ۰،۷۵ څخه

۱۳،۹۵ له ۲۸،۴ څخه، ۲۳۵،۹ له ۴۶۷،۴ څخه

۱۷،۱۳۸ له ۲۹۴،۴ څخه، ۰،۹۸۷ له ۱،۵ څخه

۵۰،۶۲ -	۷۸،۴ -
۴۷،۵۹	۵۶،۹۵
۴۶،۱۲۷ -	۲۴۷،۹۴ -
۲۳،۹	۱۳۴،۸۵۴

۲- اسلم له بازاره ۳٫٦۰ کیلوګرامه بوره او

اشرف ۲٫۷۵ کیلوګرامه بوره واخستله معلومه

کړئ چې اسلم له اشرف څخه څو کیلوګرامه بوره

زیاته اخستې ده ؟

۳- له ۳٫۲۱۴ عدد څخه کوم عدد تفریق

شي ترڅو د ۱٫۴۷٦ عدد باقي پاتې شي ؟

۴- یوه زده کوونکي له خپل جیب خرڅ څخه

په اوله هفته کښې ۷٫۲۵ افغانۍ او په دوهمه هفته

کښې ۴٫۷۰ افغانۍ سپما کړیده مګر له دې پیسو

څخه په ۵٫۹۰ افغانیو یو کتاب واخیست څو افغانۍ

هغه ته پاتې دي ؟

۵- د مجاهدینو یو ګروپ ۲۳۷٫۵۴ کیلوګرامه

باروت درلودل او ۱۲۵٫٦ کیلوګرامه باروت ئې

په بیه واخیستل که له ۲۹٦٫۳۴ کیلوګرامه باروتو

څخه لاسي بمونه جوړه کړي څو کيلوګرامه پاتې کېږي؟

۶- د پسو نو له پوې رمې څخه ۳۲۸٫۷ کيلو ګرامه وړۍ او له بلې رمې څخه ۵۴۶٫۲۳۴ کيلو ګرامه وړۍ په لاس راغلې مګر له دې وړيو څخه ئې ۶۴۵٫۳۷ کيلوګرامه د قالينې په جوړولو کښې ولګولې معلومه کړئ چې څو کيلوګرامه ئې باقي پاتې دي ؟

۷- د کلاشينکوفو او د هغې د څلورو صندوقونو مرمیو وزن ۴۵٫۶۷۴ کيلوګرامه دئ که د کلاشينکوفو د مرميو وزن ۲۸٫۹۴۵ کيلوګرامه وي د دهشکې د مرميو وزن معلوم کړئ ؟

۸ - زلمي ۶۴۲٫۷۵ افغانئ له ځانه سره درلودې له هغو څخه ئې په ۲۲۳٫۵ افغانيو کتاب او په ۲۳۶٫۲۵ افغانيو ئې کتابچه واخستله معلوم

کړي چې څو افغانۍ ورته پاتې دي ؟

۹ - یوه مجاهد ۳۲۵،۷۵ افغانۍ له ځانه سره

درلودلې او ۲۴۶،۲۵ افغانۍ یوه سړي کومک ورسره

وکړ له هغو څخه یې په ۲۱٦،۵ افغانیو یو کمربند او

په ۱۲٦،۲ افغانیو یې یو داوبو پټک واخیست معلوم

کړئ چې څو افغانۍ ورته پاتې دي ؟

۱۰- د مجاهدینو یوه ګروپ د ۷۸۵،٦۱۴

مترو په اوږدوالي د سیم لین درلود له هغه څخه یې

د یوه ضد ټانګ مین د چاودنې لپاره ۲۵۲،۴۱۲ متره

او د بل ضد ټانګ مین د چاودنې لپاره ۱۹۸،۸۲۵ متره

سیم پرې کړ نو څو متره سیم پاتې دی ؟

د اعشاري کسر ضرب :

الف : د اعشاري کسراو یا عدد ضرب په طبعي عدد کښې :

۱- مثال : د ۳ عدد د ۰٫۵ په کسر کې ضرب وو:

لومړی طریقه : $۰٫۵ \times ۳ = ۰٫۵ + ۰٫۵ + ۰٫۵ = ۱٫۵$.

دوهمه طریقه : $۰٫۵ \times ۳ = \frac{۳}{۱} \times \frac{۵}{۱۰}$

$= \frac{۵ \times ۳}{۱۰ \times ۱} = \frac{۱۵}{۱۰} = ۱\frac{۵}{۱۰} = ۱٫۵$. نو

$$\begin{array}{r} ۰٫۵ \\ \times\ ۳ \\ \hline ۱٫۵ \end{array}$$

۲- مثال : د ۴ عدد د ۱٫۳ په اعشاري عدد کښې ضرب وو .

حل : لومړی طریقه

$$\begin{array}{r} ۱٫۳ \\ ۱٫۳ \\ ۱٫۳ \\ ۱٫۳ \\ \hline ۵٫۲ \end{array}$$

دوهمه طریقه

$۱٫۳ \times ۴ = ۱\frac{۳}{۱۰} \times ۴$

$= \frac{۱۳}{۱۰} \times \frac{۴}{۱} = \frac{۵۲}{۱۰} = ۵\frac{۲}{۱۰} = ۵٫۲$

نو

$$\begin{array}{r} ۱٫۳ \\ \times\ ۴ \\ \hline ۵٫۲ \end{array}$$

۳- مثال : د ۲، عدد د ۲۵،۳ په اعشاري عدد.

کښې ضربو و.

حل : لومړۍ طریقه

۲۵،۳×۲ یعني ۲۵،۳ + ۲۵،۳

$$\begin{array}{r} ۲۵،۳ \\ + ۲۵،۳ \\ \hline ۵۰،۶ \end{array}$$

$$\begin{array}{r} ۲۵،۳ \\ \times \quad ۲ \\ \hline ۵۰،۶ \end{array}$$

نو ۵۰،۶ د.

دوهمه طریقه

$$۲۵\frac{۳}{۱۰} \times ۲ = ۲۵،۳\times۲$$

$$= \frac{۲۵۳}{۱۰} \times \frac{۲}{۱}$$

$$= \frac{۵۰۶}{۱۰}$$

$$= ۵۰\frac{۶}{۱۰} = ۵۰،۶$$

له پورتنیو مثالونو څخه دا رنګ نتیجه اخلو چې:

دیوه طبعي عدد د ضربولو لپاره په اعشاري کسر —

او یا اعشاري عدد کښې د ضرب عملیه پرته له دې چې د ممیز علامه

په نظر کښې ونیسو لکه د دوو طبعي عددونو د ضرب

په شان سرته رسوو او د ضرب په حاصل کښې د ممیز

د علامې په واسطه له ښي خوا نه هغه تعداد رقمونه بیلوو

چې په اعشاري کسر او یا اعشاري عدد کښې د ممیز

د علامې ښي خوا ته موجود دي .

۱- مثال : د ۴ عدد د ۳٫۲۸ په اعشاري

عدد کښې دا رنګه ضرب وو .

حل : لومړی د طبعي عددونو ضرب په شان

د ضرب عملیه سر ته رسوو :

× ۳ ، ۲۸
۴
۱۳۱۲

اوس د ضرب په حاصل کې د ممیز د علامې په

وسیله له ښي خوا څخه دوه رقمه بیلوو :

× ۳،۲۸
۴
۱۳،۱۲

۲- مثال : د ۲۴ عدد د ۶۵٫۹۴ په اعشاري

عدد کښې ضربوو :

۶۵ ، ۹۴
۲۴
۲۶۳۷۶
۱۳۱۸۸
۱۵۷۲۵۶

ب) = {د سهار لمونځ، د ماسپښین لمونځ، د مازدیګر لمونځ، د ماښام لمونځ، د ماخستن لمونځ} .

۱۳- که چیرته هغه طاق عددونه چې د ۲، او ۲۰، ترمنځ دي د (ج) د ستې عنصرونه تشکیل کړي نو:

۱- د (ج) ستې د قوسونو په مرسته ولیکئ.

ب- له ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۷، ۱۹، ۲۰، ۲۸، ۴۱، ۵۴ عددونو څخه کوم یو د (ج) په ستې کښې ګډون لري او کوم یو یې ګډون نه لري؟ ځواب د $\in$ او $\notin$ نښو په مرسته ولیکئ.

۱۴- لاندې ستې په نظر کښې ونیسئ.



$$
\begin{array}{r}
٦٥٫٩٤ \times \\
٢٤ \\
\hline
٢٦٣٧٦ \\
١٣١٨٨ \\
\hline
١٥٨٢٫٥٦
\end{array}
$$

اوس د ضرب په حاصل کښې د ممیز علامې په وسیله له ښي خوا څخه دوه رقمه بیلوو.

ب: د اعشاري کسر او یا عدد ضرب په اعشاري کسر یا عدد کښې:

۱- مثال: د ۰٫۴ اعشاري کسر د ۰٫۶ په اعشاري کسر کښې دا رنګه ضربوو. حل: $۰٫۴ \times ۰٫۶ = \frac{۴}{۱۰} \times \frac{۶}{۱۰} = \frac{۶\times۴}{۱۰۰} = \frac{۲۴}{۱۰۰} = ۰٫۲۴$ نو

$$
\begin{array}{r}
۰٫۶ \times \\
۰٫۴ \\
\hline
۰٫۲۴
\end{array}
$$

۲- مثال: د ۳٫۵ اعشاري عدد د ۴٫۷ په اعشاري عدد کښې دا رنګه ضربوو. حل: $۳٫۵ \times ۴٫۷ = ۴\frac{۷}{۱۰} \times ۳\frac{۵}{۱۰} = \frac{۴۷}{۱۰} \times \frac{۳۵}{۱۰} = \frac{۴۷\times۳۵}{۱۰\times۱۰} = \frac{۱۶۴۵}{۱۰۰} = ۱۶\frac{۴۵}{۱۰۰} = ۱۶٫۴۵$ نو $۴٫۷\times۳٫۵=۱۶٫۴۵$ کیږي.

له پورتنیو مثالونو څخه لاندې نتیجه بیانوو.

د یوه اعشاري کسر او یا اعشاري عدد د ضربولو لپاره په بل اعشاري کسر او یا اعشاري عدد کې د ضرب عملیه پرته له دې چې د ممیز علامې په نظر کې ونیسو د دوو طبیعي عددونو د ضرب په شان

سرته رسوو او وروسته له هغه د مميز د علامې په وسيله د ضرب حاصل له بني خوا څخه هغه تعداد رقمونه بيلو وچې په مجموعي ډول په دواړو ضربي اجزاوو (مضروب او مضروب فيه) کښي د مميز د علامې بني خواته موجود دي .

۱ـ مثال : د ۰٫۲۵ اعشاري کسر د ۶٫۷ په اعشاري عدد کښي ضربوو .

$$\begin{array}{r} \times \quad ۰٫۲۵ \\ ۶٫۷ \\ \hline ۱۷۵ \\ ۱۵۰ \\ \hline ۱۶۷۵ \end{array}$$

څرنګه چې په دې مثال کښي د مضروب د مميز د علامې بني خواته دوه رقمه او د مضروب فيه د مميز د علامې بني خواته يو رقم موجود دی نو د ضرب په حاصل کښي د مميز د علامې په وسيله

$$\begin{array}{r} \times \quad ۰٫۲۵ \\ ۶٫۷ \\ \hline ۱۷۵ \\ ۱۵۰ \\ \hline ۱٫۶۷۵ \end{array}$$

له بنې خوا څخه درې رقمه بېلوو .

۲ - مثال : د ۱۲,۳۵ اعشاري عدد د ۳,۸۵

په اعشاري عدد کښې ضربوو .

۱۲,۳۵ ×	اوس د مميز علامه د ضرب په
۳,۸۵	حاصل کې ږدوو
۶۱۷۵	
۹۸۸۰	
۳۷۰۵	
۴۷۵۴۷۵	

$$\begin{array}{r} 12,35 \times \\ 3,85 \\ \hline 6175 \\ 9880 \\ 3705 \\ \hline 47,5475 \end{array}$$

که چيرې د ضرب د عمليې څخه وروسته

د ضرب په حاصل کښې له رقمونه لاس ته راشي

په دې صورت کښې د ضرب د حاصل کيڼې خوا ته

په هغه تعداد صفرونه ږدو چې د مضروب او

مضروب فيه د مميز له علامې څخه وروسته رقمونو

له مجموعي تعداد سره برابر شي وروسته له هغه د

صفرونو کینی خواته د ممیز علامه ږدو .

۳ - مثال : د (۰٫۲۴۵) او (۰٫۰۳) اعشاري کسرونه سره ضربوو .

حل :

$$\begin{array}{r} ٪۲۴۵ \times \\ ٪۰۳ \\ \hline ۷۳۵ \end{array}$$

پورته د ضرب په حاصل کښې درې رقمه موجود دي حال دا چې د مضروب او مضروب فیه د ممیز له علامې څخه وروسته د رقمونو مجموعي تعداد پنځه رقمه دي نو د ضرب د حاصل کینی خواته دوه صفرونه زیاتوو او وروسته له هغه د ممیز علامه ږدو .

$$\begin{array}{r} ۰٫۲۴۵ \times \\ ۰٫۰۳ \\ \hline ۰٫۰۰۷۳۵ \end{array}$$

۴ - مثال : د ۰٫۰۰۵ اعشاري کسر د ۱٫۰۰۱ په عدد کښې ضربوو .

۱،۰۰۱ × ـــــد صفرونو اودمميزد علامې

$$\frac{\begin{array}{r}۱،۰۰۱\\ ۰،۰۰۵\end{array}}{۵۰۰۵}$$

دايسنود لوڅخه وروسته دضرب حاصل دارنګه پهلاس راځي.

$$\frac{\begin{array}{r}۱،۰۰۱ \times\\ ۰،۰۰۵\end{array}}{۰،۰۰۵۰۰۵}$$

۹: داعشاري کسراو يا عدد ضرب د ۱۰، ۱۰۰، او ۱۰۰۰ په عددونو کښي:

۱ـ مثال: د ۴،۲۵ اعشاري عدد د ۱۰ په عدد کښي ضربوو.

حل: $۴،۲۵ \times ۱۰ = ۴\frac{۲۵}{۱۰۰} \times ۱۰$

$= \frac{۴۲۵}{۱۰۰} \times \frac{۱۰}{۱} = \frac{۴۲۵۰}{۱۰۰}$

داختصار د قانون په نظر کښي نيولو سره په

$\frac{۴۲۵۰}{۱۰۰}$ کسر کښې د صورت یو صفر مود مخرج له

یوه صفر سره اختصار کړ نو له دې کبله :

$$۱۰ \times ۴,۲۵ = ۱۰ \times ۴\frac{۲۵}{۱۰۰} = \frac{۱۰}{۱} \times \frac{۴۲۵}{۱۰۰} = \frac{۴۲۵}{۱۰}$$

$$= ۴۲\frac{۵}{۱۰} = ۴۲,۵ \ .$$

پوره ته د ۱۰×۴,۲۵ د ضرب حاصل عبارت له ۴۲,۵ اعشاري عدد څخه مګر که ۴,۲۵ په اعشاري عدد کښې د ممیز علامه یوه مرتبه ښې خوا ته نقل کړو عین د ضرب حاصل ۴۲,۵ په لاس راځي.

۲- مثال : د ۳,۲۱۴ اعشاري عدد ۱۰۰ په عدد کښې ضرب و.

حل : $۱۰۰ \times ۳,۲۱۴ = ۱۰۰ \times ۳\frac{۲۱۴}{۱۰۰۰}$

$$= \frac{۳۲۱۴}{۱۰۰۰} \times \frac{۱۰۰}{۱} = \frac{۳۲۱۴۰۰}{۱۰۰۰۰} = \frac{۳۲۱۴}{۱۰}$$

$= ۳۲۱\frac{۴}{۱۰}$ نو $۱۰۰ \times ۳,۲۱۴ = ۳۲۱,۴$

په دې ځای کښې د ۱۰۰ × ۳,۲۱۴ د ضرب

حاصل عبارت ده له ۳۲۱٫۴ اعشاري عدد څخه

مګر که په ۳٫۲۱۴ عدد کښي د مميز علامه دوه مرتبي

ښي خواته نقل کړو عين د ضرب حاصل ۳۲۱٫۴

په لاس راځي.

۳ـ مثال: د ۰٫۴۵۲۳ اعشاري کسر د

۱۰۰ په عدد کښي ضرب ورو.

حل: $۱۰۰ \times ۰٫۴۵۲۳ = \frac{۴۵۲۳}{۱۰۰۰۰} \times \frac{۱۰۰}{۱}$

$\frac{۴۵۲۳۰۰}{۱۰۰۰۰۰} = \frac{۴۵۲۳}{۱۰} = ۴۵۲\frac{۳}{۱۰} = ۴۵۲٫۳$

نو $۱۰۰ \times ۰٫۴۵۲۳ = ۴۵۲٫۳$

بيا هم ليدل کېږي چي د $۱۰۰ \times ۰٫۴۵۲۳$

د ضرب حاصل عبارت ده له ۴۵۲٫۳ اعشاري عدد

څخه مګر که په ۰٫۴۵۲۳ اعشاري کسر کښي د مميز علامه

دري مرتبي ښي خواته نقل کړو عين د ضرب حاصل

۴۵۲٫۳ په لاس راځي.

له پورتنیو مثالونو څخه لاندې نتیجه بیانوو:

> د اعشاري کسر یا اعشاري عدد او د ۱۰، ۱۰۰، ۱۰۰۰ ... او داسې نورو عددونو د ضرب د حاصل لاس ته راوړلو لپاره یوازې او یوازې د اعشاري کسر یا اعشاري عدد د ممیز علامه د مضروب فیه د صفرونو په اندازه ښي خوا ته نقلوو.

که چیرې د اعشاري رقمونو شمیر کم وي په دې صورت کښې د اعشاري کسر یا عدد ښي خوا ته هغه تعداد صفرونه زیاتوو چې د رقمونو تعداد د مضروب فیه د صفرونو له تعداد سره برابر شي وروسته له هغه د ممیز علامه بږدو. د مثال په توګه:

۲۵۲٫۰ = ۱۰۰ × ۲٫۵۲۰ = ۱۰۰۰ × ۲٫۵۲

په دې مثال کښې څرنګه چې د ۲٫۵۲ اعشاري عدد دوه اعشاري رقمونه لري حال دا چې د مضروب فيه (۱۰۰۰) د صفرونو شمير درې، دی نو د (۲٫۵۲) اعشاري عدد ښي خوا ته مو يو صفر زيات کړاو وروسته له هغه مود مميز علامه کښېنوده او په نتيجه کښې د ۲۵۲۰ = ۲۵۲۰٫۰ عدد لاس ته راغی.

۱- مثال : ۳٫۴۱۵ متره په ديسي متر، سانتي متر او ملي متر تبديل کړی.

حل : څرنګه چې يو متر مساوي ده له (۱۰) ديسي مترو سره نو ۳٫۴۵۲ متره په (۱۰) کښې ضربوو

۳٫۴۵۲ × ۱۰ = ۳۴٫۵۲ ديسي متره.

او څرنګه چې يو متر مساوي ده له (۱۰۰) سانتي مترو سره نو ۳٫۴۵۲ متره د (۱۰۰) په عدد

کښې ضربوو .

۳،۴۵۲ × ۱۰۰ = ۳۴۵،۲۰ سانتي متره .

او همدا رنګه یو متر مساوي ده له (۱۰۰۰) ملي مترو سره نو ۳،۴۵۲ متره د (۱۰۰۰) په عدد کښې ضربوو .

۳،۴۵۲ × ۱۰۰۰ = ۳۴۵۲ ملی متره .

۲- مثال : شاکر د خپلو ورونو د کالیو لپاره له بازاره څخه ۲۵،۷۵ متره ټوکر راوینوه که چیرې دیوه متر بیه ۸،۲۵ افغانۍ وي نو د ټول ټوکر بیه دا رنګه په لاس راوړو .

حل:

```
 × ۲۵، ۷۵
    ۸، ۲۵
 ---------
   ۱۲۸۷۵
   ۵۱۵۰
  ۲۰۶۰۰
 ---------
 ۲۱۲،۴۳۷۵
```

د لاندې شيانو او عددونو څخه کوم يو يې

د ق. په سټ کښې ګډون لري او کوم يو يې نلري؟

ګډون او نه ګډون د ∈ او ∉ علامو په وسيله

وښاياست.

۲۸، ، ، نصير، منه، زلمی، ف، ختيکر،

۱۵- آياد: دوستونو چه دخلورو کبارو يارانو مبارک نومونه

په هغه کښې شامل وي يو له بل سره مساوي دي او که نه؟ که چيرې مساوي وي

نو ولې؟

د = {ابوبکر صديق (رض)، عمر فاروق (رض)، عثمان غني (رض)، علي کرم الله وجهه}

او ه = {علی کرم الله وجهه، ابوبکر صديق (رض)، عمر فاروق (رض)، عثمان غني (رض)}

۱۶- تاسې په خپله دوه مساوي سټونه وليکئ.

۱۷- له لاندې سټو څخه کوم سټونه يو له بل سره

مساوي او کوم سټونه يو د بل معادل او کوم

سټونه سره غير معادل دي

بسم الله الرحمن الرحیم

ستهـ (مجموعه):

موږ او تاسې هغو زده کوونکو ته چې په یوه ځای کې درس لولي. د زده کوونکو ټولګی، او څو کسو مجاهدینو ته چې په روسانو باندې په ګډه بریدونه کوي د مجاهدینو ګروپ، او دیوه کور غړو ته کورنۍ وایو. همدا رنګه څو پسونو ته د پسونو رمه وایو... او داسې نور.

په دې مثالونو کې ټولګی، ګروپ، کورنۍ، رمه... او داسې نور مختلف لفظونه دي. مګر

۳- مثال : که دیوه کیلوګرام چای بیه ۱۸۵٫۵ افغانۍ وي د ۱۸٫۲۵ کیلوګرامو چای بیه څو افغانۍ کیږي ؟

حل :

```
 × ۱۸۵٫۵
   ۱۸٫۲۵
 ---------
    ۹۲۷۵
   ۳۷۱۰
 ۱۴۸۴۰
 ۱۸۵۵
 ---------
 ۳۳۸۵٫۳۷۵
```

تمرین

۱- لاندې عملیې سرته ورسوی .

```
 × ۰٫۸      × ۰٫۰۸      × ۰٫۰۰۲
   ۴           ۳            ۷
 ------     -------     --------

 × ۰٫۸      × ۰٫۵      × ۰٫۶      × ۰٫۳۸
   ۰٫۵        ۰٫۷        ۰٫۹        ۰٫۷
 ------     ------     ------     -------
```

×۰/۲۳	×۰/۱۲	×۰/۸۷	×۰/۲۵
۰/۹	۰/۰۳	۰/۴۹	۰/۱۲

×۶/۳۲	×۲۴/۳	×۸۳/۶	×۵/۹۸
۹	۰/۸	۰/۵	۰/۰۰۷

×۳/۱۴	×۹۴/۷۹	×۶۷۲/۱۳	×۲۴۶/۹۷
۹/۷۸	۱۵/۴۱	۹۷/۰۰۴	۱۰

×۱۴/۵۷۶	×۲۹/۲۵۶	×۶/۴۲۳۵	×۴/۷
۱۰۰	۱۰۰۰۰	۱۰۰۰۰	۱۰۰۰۰۰

۲- له ۱۸۳۶ = ۱۲×۱۵۳ مثال څخه په ګټې اخیستلو سره د لاندې اعشاري کسرونو عددونو د ضرب حاصل (پرته له دې چې ضرب یې کړې) په لاس راوړې؟

×۱/۲	×۱/۵۳	×۱۵/۳
۱۵۳	۱۲	۰/۱۲

۱۵۳٪ ×	۱۵۳٫۰ ×
۱۲	۰٫۱۲

۳ - که دیوه لاسي بم د جوړولو لپاره ۵٪ کیلوګرامه باروت په مصرف ورسیږي د ۹٫ لاسي بمونو د جوړولو د پاره څو کیلوګرامه باروت پکاریږي؟

۴ - که چیرې مجاهدین دیوه دلښمن سنګر په جوړولو کښې ۲۴٫۶ افغانۍ ولګوي نو د ۱۲٫ سنګرونو په جوړولو کښې به څو افغانۍ ولګیږي؟

۵ - بشیر او نذیر په ګډه ۴۲۳٫۴۸۵ کیلوګرامه وریجې واخیستلې که چیرې د یوه کیلوګرام وریجو قیمت ۸٫۲۵ افغانۍ وي د ټولو وریجو قیمت څو افغانۍ کیږي؟

۶ - که چیرې د یوه ګرام چای قیمت ۲۵٪ افغانۍ وي نو د ۱۳٫۱۴۵ کیلوګرامو قیمت به څو

افغانۍ کیږي ؟

۷- که چیرې یو باغوان له خپل باغ څخه ۹۳۶٫۷ کیلوګرام بادام لاس ته راوړي او د یوه کیلوګرام بادام قیمت ۲۵۱٫۴ افغانۍ وي نو د باغ د حاصلاتو قیمت به څو افغانۍ وي ؟

۸- د برق ۲۳۷٫۸ متره سیم مو له بازاره څخه د مین د چاودنې لپاره راوړو که چیرې د یوه دیسي متر بیه یې ۳٫۶ افغانۍ وي د ټول سیم بیه معلومه کړئ ؟

۹- د اسلامي بیرغ جوړولو لپاره مو ۱۲٫۵ متره سپین ټوکر له بازاره راوړو که چیرې د یوه متر بیه یې ۶۵٫۷۵ افغانۍ وي نو د ټول ټوکر قیمت معلوم کړئ ؟

۱۰- نور احمد درې زامن لري که چیرې

د هغوی د کالیو لپاره په ترتیب سره ۳٫۵ متره
۴٫۵ متره او ۶٫۴ متره ټوکر راونیسي او د هر
متر ټوکر بیه هم ۲۴٫۲۵ افغانۍ وي ټول د
اخیستل شوي ټوکر بیه معلومه کړئ ؟

د هندسي مبحث

داوږدوالي اندازه کول

په پخوا زمانو کښې خلکو اوږدوالې په لاس، لوښت او قدم اندازه کاؤ مګر څرنګه چې د ټولو انسانانو د لاسونو، لویشتو او قدمونو اوږدوالی یو شانته ندی نو لدې کبله داواحدونه د اوږدوالي د اندازه کولو لپاره مناسب واحدونه دي. اواوس نې داوږدوالي معیاري واحد متر ټاکلی دی چې کوچني اوږدوالي د متر په اجزاؤ اولوی اوږدوالي د متر په اضعاف اندازه کیږي.

د مثال په توګه د هندسي اوږدوالو رسمونو

داندازه کولو لپاره په هندسه کې د پرکار قطی

(هندسي بکس) استعمالوي چې په هغو کښې د

اندازه کولو مختلف آلات موجود دي اوله هغه

څخه یو هم خط کش دی. چې د هغه د پاسه په

یوه څنډه د سانتي متر نښې ایښودل شوې

او هر سانتي متر په لسو برابرو برخو تقسیم شوی

چې یوه کوچنۍ برخه د سانتي لسمه برخه یا ۰٫۱

سانتي متر ده او دوه کوچنۍ برخې ۰٫۲ سانتي متره

درې کوچنۍ برخې ۰٫۳ سانتي متره... راښيي.

۰٫۱ سانتي متر یو ملي متر، ۰٫۲ سانتي

متره دوه ملي متره، ۰٫۳ سانتي متر ته درې

ملي متره... او داسې نور وایي.

همدارنګه د خط کش د پاسه په بله څنډه

د انچ نښې ایښودل شوې دي.

د مستقیم قطعه خط اندازه کول :

د مستقیم قطعه خط په تعریف کښې مو ولوستل

چې د دوو نقطو تر منځ خوږ الندې فاصلې ته مستقیم

قطعه خط وايي چې دوه د انجام او مبداء نقطې

لري نو له دې کبله د هغه د اندازه کولو د پاره

خط کش دا رنګه د خط د څنډې سره بند وچې د

خط کش صفري نښه د قطعه خط په مبداء واقع

شي وروسته له هغو ګوروچې د قطعه خط د انجام

(پای) نقطه د خط کش د سانتي متري کومې نښې

مقابل ته واقع کېږي .

وروسته د خط کش له صفري نښې څخه

تر هغه ځایه چې د مستقیمې قطعې د انجام له نقطې
سره مخامخ وي شمیرو او د مستقیم قطعه خط —
اوږدوالی په لاس راځي .

لکه لاندې مستقیم قطعه خط چې اندازه
شوی او د هغه اوږدوالی (۵) سانتي متره دی یعني
د (ا ـ ب) د مستقیمې قطعې اوږدوالی = ۵ سانتي متره



څرنګه چې د (ا ـ ب) مستقیم قطعه خط د (ــــ)
علامې په وسیله چې د ($\overline{اب}$) د پاسه رسم شوی وي
هم ښيي نو له دې کبله لیکو چې د ($\overline{اب}$) اوږدوالی
= ۵ سانتي متره .

یادونه : له ښوونکي صاحب څخه هیله کیږي چې
زده کوونکو ته د خط کش د بلې څنډې (انچ) په برخه کې لنډ معلومات ورکړي.

کہ چیرې د مستقیم قطعہ خط انجام (پای)

د سانتي مترې مکملې نښې سره مطابق نشي بلکہ

د کوچنیو ملي متري برخو سره مطابق شي . په دې

صورت کښې لومړی مکملې سانتي متري نښې جلا

او بیا کوچنۍ ملي متري نښې شمېرو او گورو چې

د مستقیم قطعہ خط اوږدوالی څو سانتي متره او څو

ملي متره کیږي .

د مثال په توگہ د لاندې مستقیم قطعہ خط

اوږدوالی ، ۴، سانتي متره او ،۳، ملي متره یا ۴٫۳

سانتي متره دي یعنې د $\overline{جد}$ اوږدوالی = ۴٫۳ سانتي متره



{ ۱، ب ، ن، ۳، ۱ } او { ب، ن، ۳، ا، ب }

{ د طیبې کلمه، لمونځ، روژه، زکات، حج }

او { شنبه، یکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه }

{ ایمان په خدای ج، ایمان په ملایکو، ایمان په آسماني کتابونو

ایمان په پیغمبرانو ع، ، ایمان د آخرت په ورځ، ایمان پر دې

چې د ذرې په اندازې د خیراو شر پوښتنه له طرفه د

خدای ج کېږي، ایمان پر دې چې پس له مرګه ژوندون شته }.

او { د طیبې کلمه، د شهادت کلمه، د توحید کلمه،

د تمجید کلمه، د کفر د رد کلمه، د استغفار کلمه } .

{ وری، غوایي، غبرګولی، چنګاښ }

او { تله، لړم، لیندۍ، مرغومی، سلواغه }

۱۸ـ په پورتنیو ستونو کښې معادل او غیر

معادل ستونه د شکل په وسیله وښایاست .

یو پر بل باندې دوه عمود خطونه ؛

که چیرې دوه مستقیم خطونه یو پر بل قطع کړي څلور زاویې جوړوي نو که دا زاویې قایمې وي دغه خطونه یو پر بل عمود بلل کیږي.



لکه دا دوه خطونه چې یو پر بل عمود دي.

او همدا رنګه په قایم الزاویه مثلثونو کښې هغه متقاطع دوه ضلعې چې قایمه زاویه یې جوړه کړې یو پر بل عمود دي.





د دوو خطونو د عمود والي د پرهېد ولپاره
لهغې آلې څخه چې په هندسي بکس اکښې
موجوده ده او گونیا
نومیږي کار اخلي چې
گونیا د قایم الزاویه
مثلث شکل لري



او د لاندې شکلونو په څیر گونیا په متقاطع
خطونو بردو او گورو که د گونیا قایمې څنډې پر نوموړو
خطونو منطبقې شوې دا خطونه یو پر بل عمود دي .







تمرين

۱- د خط کش په مرسته د لاندې خطونو څخه دهر
يو اوږدوالی معلوم کړی.



۲- د خط کش په وسیله لومړی د لاندې شکلونو

د هرې ضلعې اوږدوالی معلوم کړی . بیا د هر شکل

د اضلاعو مجموعي اوږدوالي لاس ته راوړی.



۳ ـ لومړی په ستر ګو او بیا د ګونیا په وسیله معلوم کړی چې لاندې متقاطع مستقیمو څخه کومه جوړه یو پر بل عمود دي . او هم هغه جوړه مستقیمونه چې یو پر بل عمود دي څو قایمې زاویې بې جوړې کړې دي ؟



۴ ـ له لاندې زاویو څخه د کومې یوې اضلاع یو پر بل عمود دي او هغه زاویه چې اضلاع بې یو پر بل عمود دي څه رنګه زاویه جوړوي ؟



۵ـ له لاندې شکلونو څخه هر یو څه ته ومیږي
او وواياست چې په هر شکل کښې د کوم يو اضلاع يو
پر بل عمود دي .





د زاويې اندازه کول :

لکه څرنګه چې د اوږدوالي معياري واحد متر دی همدا رنګه د زاويې د پراخوالي د اندازه کولو لپاره يې درجه چې د قايمې زويې $\frac{1}{90}$ برخه ده د واحد په توګه ټاکلې ده .

د درجې علامه (°) ده او کله چې د يوه عدد د پاسه وليکل شي . نو نوموړی عدد هماغه درجه راښيي :

د مثال په توګه (°30) ، يعني ۳۰ درجې ، (°60) يعني ۶۰ درجې ، (°90) يعني ۹۰ درجې ... او داسې نور . په هندسه کښې د زاويې د پراخوالي د اندازه کولو لپاره يو بله آله چې په هندسي بکس کښې موجوده ده . او نقاله نوميږي استعماليږي .

نقاله هغه آله ده چې د نیمې دایرې شکل لري

او مرکزئې د نیمې دائرې مرکز دی او د زاویې د

واحد (درجه) په وسیله له ښې او کیڼې خوا څخه

په (۱۸۰) مساوي برخو ویشل شوې ده چې هره

برخه ئې یوه درجه ده .

لکه دا شکل



دنقالي داستعمال طريقه:

ديوې زاويې دپراخوالي د معلومولپاره نقاله دزاويې په مخ دا رنګه ږدو چې دنقالې مرکز دزاويې په راس او د زاويې يو ضلعه د نقالې دصفر درجې په امتداد سره واقع شي په دې حالت کښې د زاويې دوهمه ضلعه پخپله دنقالې له يوې درجې سره برابرېږي چې هم دا درجه دنوموړې زاويې پراخوالى راښيي.

دمثال په توګه په لاندې شکل کښې نقاله د ا ب̂ ج پر زاويې کښېښودل شوې ده او نقاله راښيي



د «ابج» زاويې د پراخوالي اندازه ٦٠° درجې ده .

او په خلاصه توګه وايې چې د «ابج» زاويې اندازه ٦٠° درجې ده او دارنګه يې ليکي ابج = ٦٠° چې «٨» د «ابج» د زاويې د پراخوالي د اندازې علامه ده.

هیرمو نشي چې په هندسه کې پرته له دې چې زاويه په دريو تورو وښيو يوازې د راس په توري يې هم ښيي او د زاويې د کليمې په ځای د «>» د دريو تورو يا د راس د توري کينې خواته ليکي . د مثال په توګه د «ابج» زاويې په ځای ليکو «ابج>» او يا د «ب>» له دې کبله د «٨» او «>» علامو بايد يو له بله توپير وشي .



ویش (تقسیم)

د یوه عدد ویشل مو پر بل عدد باندې پخوا زده کړي.

د یادونې لپاره لاندې مثالونه په نظر کښې ونیسئ.

امثال : یوه مجاهد (۲۳۲۸) افغانۍ د کتابچو د اخستلو لپاره له یوې مدرسې سره کمک کړی دی که چیرته د یوې کتابچې بیه (۷) افغانۍ وي نو په نومو افغانیو به څو جلده کتابچې واخستل شي او څو افغانۍ به باقي پاتې شي؟

مقسوم ۲۳۲۸	۷	مقسوم علیه
۲۱	۳۳۲	خارج قسمت
۲۲		
۲۱		
۱۸		
۱۴		
۴ پاتې (باقي).		

کرچیري د نقالي په وسیله د زاویې د اندازه

کولو په وخت کښې د زاویې ضلعې لنډې وي او د

نقالي پر مخ ویشل شوو برخو ته و نه رسیږي . په

دې حالت کښې کولای شو چې د زاویې ضلعو ته

د خط کش په وسیله امتداد ورکړو ترڅو د زاویې

د پراخوالي اندازه کول آسانه شي . د لاندې شکلونو

په څېر .



د زاويې لوی والی او کوچنی والی د ضلع په

اوږدوالي او لنډوالي پورې نه بلکه د هغې د ضلعې

په دوران پورې اړه لري .

مستقيمه زاويه :

لاندې نقاله د (ا ب ج) زاويې پر مخ چې د

ا ب^ ج = ۴۵° ده اېښودل شويده د (ب ج) د ضلعې په

لېږي کېدو سره د (ب د) ځای ته د (ا ب ج) زاويه هم

لوېږي او د (ا ب د) زاويه چې ا ب^ د = ۹۰° ده په

لاس راځي .



همدارنګه د (ب د) د ضلعې په لرې کېدو سره
د (ب هـ) ځای ته بیا هم د (اب د) زاویه لویېږي او
د (اب هـ) زاویه په لاس راځي .



همداد «اب ه» زاويې ته چې د پراخوالي اندازه

يې ۱۸۰° درجې (اب̂ه = ۱۸۰°) ده او دا د واړه ضلعې يې

د يوه مستقيم خط په امتداد سره واقع دي «مستقيمه

زاويه» وايي .

صفري زاويه:

برعكس د «اب ج» په زاويه كښې د (ب ج) د

ضلعې په نژدې كيدو سره د (اب) ضلعې ته د (اب ج)

زاويه هم كوچنۍ كيږي او په آخره كښې د (ب ج) ضلعه

د (اب) پر ضلعه واقع كيږي او هغه زاويه چې د



دوه ضلعې يو پر بل پرتې دي

پراخوالي اندازه ئې صفر درجې ده لاس ته راځي.

دا رنګه زاويې ته چې ضلعې ئې يو پر بل واقع دي ۱۰ او د پراخوالي اندازه ئې صفر درجه ده. ، صفري زاويه ، وائي.

تمرين

۱- په لاندې شکل کښې نقاله د اندازه کېدو لپاره د څو زاويو پر خ کښېښودل شوي ده د مثال په توګه د (ا ب ج) د زاويې اندازه ۴۰ درجې ده (ا ب^ ج = ۴۰° يا ب^ = ۴۰°).



دهمدې نقالې نه په استفادې سره دلاندې زاویو څخه چې تر نقالې لاندې واقع دي د هرې یوې اندازه معلومه کړی ؟

ا ب د >   ، ا ب هـ >   ، ا ب و >   ، و ب ز >

ا ب ز > .

۲ـ له لاندې زاویو څخه د هرې یوې د پراخوالي اندازه د نقالې پواسطه معلومه کړی ؟



۳- لومړی : د قایمې زاويې د پراخوالي اندازه
څو درجې ده ؟

دوهم : که آ̂ = ۱۵° ، ه̂ = ۱۲۰° ، ح̂ = ۴۵°
او د ن̂ = ۹۱° وي نو له راکړل شوو زاويو څخه کومه
يوه حاده او کومه يوه يې منفرجه ده ؟

۴- د ∠ا ، ∠ج ، ∠ه زاويو پراخوالی
په ترتیب سره د قایمې $\frac{۱}{۲}$ ، د قایمې $\frac{۱}{۳}$ او د مستقیمې
$\frac{۱}{۲}$ دی د نوموړو زاويو څخه د هرې يوې د پراخوالي
اندازه څو درجې ده ؟

۵- که آ̂ = ۳۰° ، ب̂ = ۱۵° ، ح̂ = ۴۵°
او ه̂ = ۶۰° وي معلوم کړئ چې د نوموړو
زاويو څخه د هرې يوې پراخوالی د قایمې زاويې
څومره برخه ده ؟

۶- په لاندې شکل کښې د (ابج) د زاويې

د پراخوالي اندازه °۱۵ درجې او د (جب د) د زاویې
د پراخوالي اندازه °۳۰ درجې ده. د (اب د) د زاویې
پراخوالی معلوم کړئ ؟



۷ - د (ه و خ) د زاویې د پراخوالي اندازه °۱۴۵
او د (ه و ح) د زاویې د پراخوالي اندازه °۵۵ ده
د ه و خ> د زاویې پراخوالی څو درجې ده؟



د مستطیل محیط :

د اب‌ج‌د مستطیل په نظر کښې ونیسئ.

په دې مستطیل کې د آب اوږدوالی = ٦ سانتي متره او د آد اوږدوالی = ٣ سانتي متره دی نو د دج اوږدوالی چې د آب او د بج اوږدوالی چې د آد مخامخ ته واقع دی هم په ترتیب سره ٦ سانتي متره او ٣ سانتي متره دي یعنې د مستطیل له اوږدو ضلعو څخه هره یوه ٦ سانتي متره او له لنډو ضلعو څخه هره یوه ٣ سانتي متره ده.



د مستطیل اوږدې ضلعې ته طول اولنډې

ضلعې ته عرض وايي .

د دې مستطیل محیط = د $\overline{اب}$ اندازه + د

$\overline{بج}$ اندازه + د $\overline{جد}$ اندازه + د $\overline{دا}$ اندازه يا د

ابجد د مستطیل محیط = ۶ + ۳ + ۶ + ۳ =

۲ × (۶+۳) = ۱۸ سانتي متره .

يا س (۶+۳) چې د مستطیل د طول او عرض

د جمعې له حاصل څخه عبارت دي دوه چنده شوي

اويا :

د (ابجد) د مستطیل د محیط اندازه = ۲×(د مستطیل د طول اندازه + د مستطیل د عرض اندازه) .

مثال : د لاندې راکړل شوي مستطیل

محیط دا رنګه پیدا کوو .

حل : د (هوزح) مستطیل محیط =

ازمیښت (امتحان)

$$(۳۳۲ \times ۷) + ۴ =$$

$$۲۳۲۴ + ۴ = ۲۳۲۸$$

(۲) مثال: دیوه کلي وړکړوله یوې مدرسې سره (۹٦۸۵) افغانۍ کمک وکړکه په نوموړو پیسو (٦۵) پاڼې میزونه واخستل شي. نومعلوم کړی چې هر میز په څو افغانۍ اخستل شوی.

۹٦۸۵	٦۵
٦۵	۱۴۹
۳۱۸	
۲٦۰	
۵۸۵	
۵۸۵	
۰	

امتحان:

$$۱۴۹ \times ٦۵ = ۹٦۸۵$$

۲ × (د مستطیل طول + د مستطیل عرض)



د (هـ و ز ح) د مستطیل محیط = ۲ × (۵ + ۳)

= ۲ × ۱۸ = ۱۶ سانتي متره .

دمربع د محیط اندازه کول،

د (ا ب ج د) مربع په نظر کښې نیسو.

د دې مربع محیط = د $\overline{\text{اب}}$ اوږدوالی + د $\overline{\text{بج}}$ اوږدوالی + د $\overline{\text{جد}}$ اوږدوالی + د $\overline{\text{دا}}$ اوږدوالی



= ۳ + ۳ + ۳ + ۳

= ۴ × ۳ = ۱۲ سانتي متره

او یا ؛

د مربع د محیط اندازه = ۴ × د مربع دیوې ضلعې اوږدوالی

مثال ؛ دلاندې مربع محیط دا رنګه پیدا کوو.



حل ؛

د ج ط ی ک ، د مربع محیط

= ۴ × د مربع دیوې ضلعې اوږدوالی

= ۴ × ۵ = ۲۰ سانتي متره.

د مثلث اقسام د اضلاعو له مخې :

مثلث د اضلاعو له مخې په دری ډوله دی.

۱- متساوي الاضلاع مثلث ؛

هغه مثلث ته چې د دریو ضلعو طول یې مساوي وي متساوي الاضلاع مثلث په نامه سره یادیږي.

د مثال په توګه،



د ا ب ج مثلث چې د هرې
ضلع طول يې ۳ سانتي متره
دی

۲ـ متساوی الساقين مثلث :

هغه مثلث ته چې د دوو ضلعو طول يې سره مساوي
وي متساوی الساقين مثلث په نامه ياديږي .

د مثال په توګه :



د ه و ز مثلث چې د (هز)
او (هو) د ضلعو طول يې
سره مساوي دی .
د دې مثلث هرې
مساوي ضلعې ته د مثلث
ساق وايي

۳- مختلف الاضلاع مثلث :

هغه مثلث ته چې د اضلاعو طول یې سره مختلف وي، مختلف الاضلاع مثلث وائي لکه د ح ط ی، مثلث چې د درې واړو ضلعو طول یې سره مختلف دی



د مثلث د محیط اندازه کول:

۱- که چیرې مثلث متساوي الاضلاع وي لکه د ا ب ج، مثلث په دې صورت کې

د ا ب ج، د مثلث محیط

= د ا ب، طول + د ب ج، طول + د ج ا، طول.



او یا د ا ب ج، د مثلث محیط = ۴+۴+۴ = ۱۲ سانتي متره.

لیکن په دې ډول مثلث کې څرنګه چې د درې

وار و ضلعو طول ئي سره مساوي دئ نوکولای شو

چې ولیکو:

د ا ب ج د مثلث محیط = ۳ × د یوې ضلعې طول

یعنې د ا ب ج د مثلث محیط = ۳ × ۴ = ۱۲ سانتي متره.

۲ – د (د ه و) د متساوی الساقین مثلث

محیط په دې ډول پیدا کېږي.



د (د ه و) د مثلث

محیط = د (د ه) طول +

د (ه و) طول + د (و د) طول

= ۴ + ۶ + ۴ = ۱۴ سانتي متره.

۳– د (ح ط ی)، د مختلف الاضلاع مثلث

محیط دا رنګه پیدا کیږي.

د (ح ط ی)، د مثلث محیط = د (ح ط)، طول +

د (ط ی)، طول + د (ی ح)، طول -

د ح ط ی، د مثلث محیط = ۴ + ۷ + ۵ = ۱۶ سانتي متره.



مگر په عمومي ډول :

د مثلث د محیط اندازه = د مثلث د دری واړو ضلعو د اوږدوالی د مجموعې سره

تمرین

۱ - که دیوه متساوی الاضلاع مثلث د یوې ضلعې طول ۵ سانتي متره وي نو محیط ئې څو سانتي متره کیږي ؟

۲ - که په یوه متساوی الساقین مثلث کښې د

يوې ضلعې اوږدوالی ۲،۵ سانتي متره او د يوه ساق اوږدوالی ۳،۵ سانتي متره وي د هغه محيط څو سانتي متره کېږي ؟

۳- که د يوه مختلف الاضلاع مثلث د اضلاعو طول په ترتيب سره ۳،۵ سانتي متره ، ۲،۷ سانتي متره او ۴،۲ سانتي متره وي . محيط يې څو سانتي متره کېږي؟

۴- په لاندې مثلثونو کې متساوي الاضلاع مثلث متساوي الساقين مثلث او مختلف الاضلاع مثلث معلوم کړې ؟





۵ - يو باغوان غواړي د مثلث شکلي ځمکې

په شاوخوا چې د اضلاعو اوږدوالی يې په ترتيب سره

۳۰٫۵ متره، ۴۴٫۷۵ متره او ۵۰٫۶۰ متره دي خاردار

سيم راتاو کړي معلومه کړئ چې د نوموړې ځمکې د

احاطې لپاره څو متره خاردار سيم پکار دی؟

۶ - لاندې د مستطيل طول او عرض راکړل

شوي د هغه محيط معلوم کړئ؟

الف : طول = ۵ سانتي متره عرض = ۳ سانتي متره.

ب : طول = ۶ ديسي متره عرض = ۴٫۵ ديسي متره.

ج : طول = ۷٫۵ متره عرض = ۵ متره

۷ - که د متساوي الاضلاع مثلث محيط

۱۸ سانتي متره وي . د هرې ضلعې اوږدوالی بې
معلوم کړئ ؟

۸ ـ که د يوه مستطيل طول ۴ ,۳ ديسي متره
او عرض يې ۵ ,۲ ديسي متره وي محيط يې معلوم کړئ؟

۹ ـ د يوې کوټې د فرش طول ۵ ,۴ متره
او عرض يې ۵ ,۳ متره دئ د نوموړي فرش محيط
معلوم کړئ ؟

۱۰ ـ يو کس غواړي خپل د انګورو مستطيل
شکله باغ چې طول يې ۵ ,۹ ديکامتره او عرض يې
۵ ,۶ ديکامتره دي ديوال را چارپېر کړي معلومه
کړئ چې نوموړي باغ په څو متره ديوال احاطه کېږي؟

۱۱ ـ د يوې مستطيل شکله ځمکې د طول او
عرض مجموعي اوږدوالی ۹ هکتومتره دئ د نوموړې
ځمکې محيط معلوم کړئ ؟

۱۲ - په لاندې مربع ګانو کې د یوې ضلعې

اوږدوالی راکړل شوی دی محیط یې معلوم کړی ؟

الف: د ضلعې اوږدوالی = ۷ سانتي متره .

ب: د ضلعې اوږدوالی = ۴,۵ دیسي متره .

ج: د ضلعې اوږدوالی = ۳,۲ متره .

۱۳- د یوه مسجد شریف د حویلۍ غولي مربع

شکله دئ او هره ضلعه یې ۴۹,۵ متره ده د حویلۍ د غولي

محیط معلوم کړی ؟

۱۴- که چیرې دوه کسه د ورځې ۱۰,۶ متره دیوال

د یوه مربع شکله باغ په شاو خوا راتاو کړي او د یوې

ضلعې جوړول یې په درې ورځو کې سرته ورسوي

معلوم کړی چې د نوموړي باغ محیط څو متره دی ؟

۱۵- که د یوه مربع شکله باغ په شاوخوا کې چې د

یوې ضلعې اوږدوالی یې یو هکتو متره دی (۲۰۰) د

۳، مثال : دیوولس ډزري ټوپکه ۲۶۸۹، مرمۍ پر ۶۲، کسو مجاهدینو وویشل شوې معلوم کړئ چې هر مجاهد ته څو مرمۍ رسیدلې او څو مرمۍ پاتې دي ؟

۲۶۸۹	۶۲
۲۴۸	۴۳
۲۰۹	
۱۸۶	
۲۳	

امتحان :

= ۲۳ + (۶۲ × ۴۳)

۲۶۸۹ = ۲۳ + ۲۶۶۶

۴، مثال : یو باغوان د منو (۵۷۹۶) نیالګي دیو باغ په ۸۴، قطارونو کښېنوي. معلوم کړئ چې په هر قطار کښې به څو نیالګي ایښي دي ؟

۵۷۹۶	۸۴
۵۰۴	۶۹
۷۵۶	
۷۵۶	
۰	

انګور و نیالګي کښېنول شوي وي نو معلومه کړئ چې د محیط په نیم هکتومتر کې به څو نیالګي کښېنول شوي وي ؟

۱٦ - که د یوې مربع محیط ۴ دیکامتره ۱ و ۴ متره او ۴ دیسي متره وي د مربع د ضلعې اوږدوالی معلوم کړئ ؟

مساحت :

مخکې له دې چې مساحت وپېژنو باید د یوې هندسي اصطلاح یعنې سطحې سره چې په لاندې مثالونو کښې یې یادونه شوې آشنا شي .

مثالونه : په هندسه کې د مېز مخ ته د مېز سطحه وايي، د کاغذ مخ ته د کاغذ سطحه، د اوبو مخ ته د اوبو سطحه ، د ځمکې مخ ته د ځمکې سطحه

د مربع مخ ته د مربع سطحه، د مستطیل مخ ته د مستطیل سطحه د مثلث مخ ته د مثلث سطحه...

او داسې نور وايي.

نو لردې کبله د هرې سطحې د پراخوالي اندازې ته د هغې سطحې <u>مساحت</u> وايي.

<u>د مساحت د اندازه کید و واحد:</u>

د سطحې د پراخوالي د اندازه کید و لپاره یې متر مربع د واحد په توګه ټاکلی دی.

متر مربع عبارت دی له هغې مربع سطحې نخه چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې یو متر وي.

د متر مربع اجزاوې عبارت دي له:

۱- دیسي متر مربع: هغه مربع ده چې د هرې ضلع اوږدوالی یې یو دیسي متر وي

۲- سانتي مترمربع : هغه مربع دی چې د
هرې ضلعې اوږدوالی ئې یو سانتي متروي .
۳- ملي مترمربع : هغه مربع دی چې د
هرې ضلعې اوږدوالی ئې یو ملي متروي .
یو مترمربع = ۱۰۰ د یسي مترمربع .
یو دیسی مترمربع = ۱۰۰ سانتی مترمربع .
یو سانتی مترمربع = ۱۰۰ ملي مترمربع .
د مترمربع اضعاف عبارت دي له :
۱- دیکا مترمربع (آر) : هغه مربع ده چې
د هرې ضلعې اوږدوالی ئې یو دیکا متروي .
۲- هکتو مترمربع (هکتار) : هغه مربع ده چې
د هرې ضلعې اوږدوالی ئې یو هکتو متروي .
۳- کیلو مترمربع : هغه مربع ده چې د هرې
ضلعې اوږدوالی ئې یو کیلو متروي .

یو دیکا متر مربع = ۱۰۰ متر مربع .

یو هکتو متر مربع = ۱۰۰ دیکا متر مربع .

یو کیلو متر مربع = ۱۰۰ هکتو متر مربع .

په عامه توګه د لویو سطحو لکه د ځمکې سطحه ، د بحرونو سطحه ، د دنیا د ملکونو سطحه ... او داسې نورو سطحو پر اخوالی د متر مربع په اضعافو او د کوچنیو سطحو لکه د آیینې سطحه د میز سطحه ، د مربع سطحه ، د مستطیل سطحه د مثلث سطحه ... او داسې نورو سطحو پراخوالی د متر مربع په اجزاؤ اندازه کوي .

د مستطیل او مربع مساحت :

داسې مستطیل چې طول یې ۳ سانتي متره
او عرض یې ۲ سانتي متره او همدارنګه هغه مربع
چې د هرې ضلعې اوږدوالی ئې ۴ سانتي متره
دئ په نظر کښې ونیسئ .



د پورتني مستطیل او مربع د مساحت د
پیداکولو لپاره سانتي متر مربع (هغه مربع چې د هرې
ضلعې اوږدوالی ئې یو سانتي متر وي) د اندازه کیدو
د واحد په توګه تاکو .



اوس وګورئ چې د راکړل شوي مستطيل
او مربع مخ په هر يوه کښې څو کوچينو مربع ګانو
(سانتي مترمربع) ځای نيولی .



د مستطيل په منځ کښې د واحدو مربعاتو
(سانتي مترمربع) تعداد ته د مستطيل مساحت او
د مربع په منځ کښې د واحدو مربعاتو (سانتي مترمربع)
تعداد ته د مربع مساحت وايي .

نو ځرنګه چې په مستطيل کې (٦) واحدي

مربع گاني ځای لري .

لهٔ دې کبله د مستطیل مساحت = ٦ سانتي متر مربع . او په ړاکړل شوی مربع کښې ١٦ واحدي مربع گاني ځای لري . نو د مربع مساحت = ١٦ سانتي متر مربع .

اوس که د نوموړي مستطیل طول د هغه په عرض کښې ضرب کړو بیا هم هغه تعداد واحدي مربع گاني چې د مستطیل په منځ کښې ځای لري په لاس راځي یعني د مستطیل طول × د مستطیل عرض = ٣ × ٢ = ٦ سانتي متر مربع (د کوچنیو مربع گانو تعداد)

نو له دې کبله په عامه توګه :

د مستطیل مساحت = طول × عرض

همدا رنګه که د مربع د یوې ضلع اندازه د هغې د بلې ضلعې په اندازه کښې ضرب کړو . بیا هم د

واحدو مربع گانو تعداد چې د نوموړې مربع په منځ کښې ځای لري په لاس راځي یعنې :

د مربع د یوې ضلعې اندازه × د مربع د بلې ضلعې اندازه = ۴ × ۴ = ۱۶ سانتي متره مربع (د واحدو مربع گانو تعداد) .

یا په عامه توگه **د مربع مساحت = ضلع × ضلع**

۱- مثال : د لاندې مستطیل مساحت دا رنگه معلوموو.

حل : د مستطیل مساحت = طول × عرض .

نو : د مستطیل مساحت = ۶ × ۴ = ۲۴ سانتي متر مربع



۲- مثال، دلاندې مربع مساحت دا رنګه

معلوموو :

حل : د مربع مساحت = ضلع × ضلع

نو د مربع مساحت = ۴ × ۴ = ۱٦ سانتي متر مربع



۳- مثال : که دیوه مستطیل شکله توټلګي طول ٦,۵ متره او د هغه عرض ۵ متره وي د هغه توټلګي د فرشولو د پاره څو متر مربع سطرنجي پکار ده .

حل : د توټلګي مساحت = د توټلګي طول × د توټلګي عرض

یا د توټلګي مساحت = ٦,۵ × ۵ = ۳۲,۵ متر مربع.

نو د توټلګي د فرشولو د پاره ۳۲,۵ متر مربع

سطرنجي په کار ده .

۴ـ مثال : د لاندې شکل له مخې د (ا ب ج)

او (ا ج د) له مثلثو څخه د هر یوه مساحت معلوم

کړی ؟



حل: د شکل له مخې

د (ا ب ج د) د مربع مساحت

۱٦ سانتي متر مربع دی .

څرنګه چې په نوموړې مربع کښې دوه مثلثونه

ځای لري نو له دې کبله د (ا ب ج) او (ا ج د) د مثلثونو

څخه د هره یوه مساحت د مربع نیمایي یعنی ۸ سانتي

متر مربع دی .

که د هر مثلث په منځ کښې کوچنۍ مربع ګانې

وشمیرو نو معلومه به شي چې په هر مثلث کښې

(٦) مکملې مربع ګانې او ۴ نیمې مربع ګانې ځای لري چې

امتحان :

۹۶ × ۸۴ = ۵۷۹۶

(۵) مثال : دد وو ښارونو ترمنځ فاصله (۴۵۵۰۰۰) متره ده. که چیرته یو څوک دا فاصله د موټر په وسیله په (۱۴) ساعتونو کې ووهي . نو معلومه کړئ چې په هر ساعت کې به څو متره فاصله وهلې ده .

۱۴	۴۵۵۰۰۰
۳۲۵۰۰	۴۲
	۳۵
	۲۸
	۷۰
	۷۰
	۰۰

امتحان :

۳۲۵۰۰ × ۱۴ = ۴۵۵۰۰۰

(۶) مثال : د اسلامي انقلاب د شهیدانو په (۶۲۵) کورنیو مو (۱۵۶۹۷) متر غنم وویشل. معلومه

په مجموعي توګه ۸ کوچنۍ مربع ګانې په یوه مثلث کښې او ۸ کوچنۍ مربع ګانې په بل مثلث کښې ځای لري . نو له دې نه مونږ و مثلثونو څخه د هره یوه مساحت ۸ سانتي متره مربع دی .

۵ - مثال : که د یوه متر مربع سطرنجي د اوبدلو لپاره ۱٫۲۵ کیلوګرامه تار په مصرف ورسیږي نو معلومه کړئ چې د هغه سطرنجي د اوبدلو لپاره چې طول او عرض ئې سره مساوي او هر یو ئې ۵، متره وي څو کیلوګرامه تار پکار دي ؟

حل : د سطرنجي مساحت = د سطرنجي طول × د سطرنجي عرض .

یا د سطرنجي مساحت = ۵×۵ = ۲۵ متر مربع.

نو د هغې سطرنجي د اوبدلو لپاره چې مساحت ئې ۲۵ متر مربع دی کوم مقدار تار چې لګیږي عبارت

دي له :

۱,۲۵ × ۲۵ = ۳۱,۲۵ کیلوګرامه څخه .

« تمرین »

۱- سانتي متر مربع □ (یو سانتي متر) دواحد په توګه وټاکئ اود لاندې شکلونو څخه د هر یو مساحت معلوم کړئ ؟





۲- د لاندې مستطیلونو او مربع مساحت معلوم کړی ؟







۳ - د خط کش په استعمال سره د لاندې مستطیلونو او مربع مساحت معلوم کړی ؟



۴- په لاندې شکل کښې د (ا ب ج)، (ا ج د)، (د ج و)، (و ج ه) او (ا ج و) له مثلثونو څخه د هر یوه مساحت او د (ا ب ج د)، (د ج و ه) له مربع ګانو څخه د هرې مربع مساحت او همدا رنګه د (ا ب ه و) د مستطیل مساحت معلوم کړی؟



۵- د یوې مربع شکله کوټې د فرش لپاره چې د هرې ضلعې اوږدوالی ئې ۴ متره دی څو

مترمربع تغر په کار دی ؟

۶ـ د یوه مسجد شریف د فرشولو لپاره چې د مستطیل شکل لري . طول یې ۴۰ ، متره او عرض یې ۱۵ ، متره دي څو مترمربع قالینه پکار ده ؟

۷ـ که د میز د سطحې طول ۱۲۰ سانتي متره او عرض یې ۷۵ سانتي متره وي د هغه د فرشولو لپاره څو سانتي متره مربع پلاستیک پکار دی ؟

۸ ـ د دښمن غواړي د یوې اوارې ځمکې د پاسه چې طول یې ۱۲۵ متره او عرض یې ۸۵ متره دی خپله پوسته ځای په ځای کړي . خو مجاهدین د دښمن له راتګ څخه مخکې په نظر کې لري چې په هر ۴ مترمربع کښې یو مین کېږدي . معلوم کړئ چې د نوموړې ځمکې د مین کارۍ لپاره څو مینه پکار دي ؟

۹ ـ که د بنو وتخې د باغچې طول ۴,۵ دیکامتره

او عرض يې ۲,۷ دیکامتره وي د دوموړې باغچې

مساحت څو آره کیږي ؟

۱۰ ـ د یوې ځمکې طول ۶,۱ هکتومتره او

عرض يې ۴,۸ هکتومتره دي که چیرې یو کروندګر

د دوموړې ځمکې له یوه هکتار څخه ۱۵۰۰ کیلوګرامه

غنم حاصل په لاس راوړي معلومه کړې چې له

ټولې ځمکې څخه به څو کیلوګرامه حاصل لاس ته

راوړي ؟

مقیاسات

د واحدانو په دوام سره چې په اندازه گیرې کې د هغې څخه استفاده کېږي څو نور واحدونه په لاندې توگه بیانېږي .

۱ ـ د معمار گز : هغه اوږد والی دی چې د تعمیراتو او د تعمیر د موادو په اندازه کولو کښې استعمالېږي .

یو د معمار گز = ۰/۹۱۵ متر .

د معمار د گز اجزاوې :

یو د معمار گز = ۳ فټه .

یو فټ = ۱۲ انچه .

یو انچ = ۸ سوته .

۲ـ د جریب گز : هغه اوږد والی دی

چې د هغې په واسطه سره ځمکه اندازه کیږي .

د جریب یو گز = تقریباً ۷۴۶ ، متر .

یو جریب = هغه مربع شکله ځمکه ده چې

هره خنده یې ۶۰ د جریب گزه وي .

او یا یو جریب ځمکه = ۳٦۰۰ مربع د جریب گزه .

د جریب د گز اجزاوې :

یو جریب = ۲۰ بسوې .

یوه بسوه = ۲۰ بسواسې .

د ځینو مقیاسونو مقایسه یو له بل سره :

آر = $19\frac{7}{10}$ بسواسې یا تقریباً یوه بسوه .

هکتار = ۴ جریبه ، ۱۸ بسوې او

۱۸ بسواسې .

انگلیسي تن = ۱۰۱۷ کیلوګرامه .

متري تن = ۱۰۰۰ کیلوګرامه .

یو انګلیسي تن = ۱٫۰۱۷ متري تن .

۱ لیتر = ۰٫۲۲ ګیلنه .

۱ ګیلن = $۴\frac{۱}{۲}$ لیتره .

تمرین

۱ـ د معمار یو ګز څوانچه کېږي؟

۲ـ د معمار یو ګز څو سوته کېږي؟

۳ـ یو فټ څو سوته کېږي؟

۴ـ د معمار یو ګز څو دیسي متره کېږي؟

۵ـ د معمار یو ګز څو سانتي متره کېږي؟

۶ـ د معمار یو ګز څو ملي متره کېږي؟

۷ـ ۲۱ فټه + ۳۶ انچه + ۱۴۴ سوته = ؟

د معمار څو ګزه کېږي) ؟

۸ـ ۵،۱ فټه + ۵ ٪ د معمار ګز+۲۸۸ سوټه

= ؟ (د معمار څو ګزه کېږي) ؟

۹ـ د جریب یو ګز څو بسواسې کېږي ؟

۱۰ـ ۵،۱ بسواسې +۵،۳۹۸ بسواسې +

۵،۱۸ بسوې = ؟ (څو بسواسې کېږي)؟

۱۱ـ د جریب ۵ ګزه+ ۲۰۰ بسواسې+۱۰۰

بسوې = ؟ (څو بسواسې کېږي) ؟ .

۱۲ـ د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد

غازیې چې د انقلاب د شهید انو د ماشومانو لپاره د

دارالحفاظ پیوه مدرسه مستطیل شکله ځمکې چې

سورئې ۶۰، ګزه د جریب او اوږدوالئې ۱۲۰، ګزه

د جریب دي ودانه کړي معلوم کړی چې د دې ځمکې

مساحت څو جریبه دی ؟

کړئ چې مړي کورنه ته څومره غنم رسیږي او څو
منه پاتې کیږي ؟

```
۱۵۶۹۷ | ۶۲۵
۱۲۵۰  |----
-----   ۲۵
 ۳۱۹۷
 ۳۱۲۵
-----
   ۷۲
```

امتحان:

= ۷۲ + (۶۲۵ × ۲۵)

۱۵۶۹۷ = ۷۲ + ۱۵۶۲۵

(۷) مثال : (۶۶۶۰) کسو مجاهدینو د دښمن پر قواو باندې د یرغل لپاره تصمیم ونیوه کړ دوی په (۱۸۵) کسیزو ګروپونو وویشل شي نو معلومه کړئ چې څو ګروپه برابر جوړ شي.

```
۶۶۶۰ | ۱۸۵
 ۵۵۵ |----
----   ۳۶
۱۱۱۰
۱۱۱۰
----
   ۰
```

دافغانستان دتعلیمی مرکز دنصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولوجهادی تنظیمونو د تعلیمی نصاب توحید ، د یومتوازن او جامع اسلامی ښوونې او روزنې منځ ته راوړل چې د هر ډول باطل پرستی او بدعتونو ضد وي . همدارنګه د اسلامی کلی قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامی ټولنه کښې غواړي .

خصوصي هدف:

داسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لاره تلونکو ته دیو والي او وحدانیت لار ښوونه کوي ترڅو چې دوي په مستحکم او دایمی توګه دعالي او معقولو اسلامی سننو او قوانینو متمسک وي .

دا نصاب د اسلامی ښوونې او روزنې او سواد « د جهادي . فرهنګي . فلسفی . اقتصادي تخنیکي ، مدني ، معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره » ضامن دی .

چې په عین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات داسلامي نړۍ سره وي او داسلامي مقدسو حقایقو مبین وي .

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی ، د اسلام د شان او عظمت ښودل نړیوالو ته ، د کفر او کمونیزم اضمحلال ، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدی (ص) غرا شریعت د حنفی فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زماني د طاغوطیانو سره مبارزه ددې تعلیمی نصاب آخري مرام دی .

امتحان : ۳۶ × ۱۸۵ = ۶۶۶۰

۸، مثال : د مجاهدینو یوې جبهې د خپلو خوراکي مواد و برابر ولو لپاره په (۲۸۲) جریبه ځمکه کښې غنم وکرل که له ټولې کرل شوې ځمکې څخه (۲۶۷۹۰) منه غنم لاس ته راغلي وي. د هر جریب ځمکې حاصل به څومره غنم وي.

۲۶۷۹۰	۲۸۲
۲۵۳۸	۹۵
۱۴۱۰	
۱۴۱۰	
۰	

امتحان : ۹۵ × ۲۸۲ = ۲۶۷۹۰

۹، مثال : له یوه اسلامي مملکت څخه په یوه کاروان کښې (۲۱۵) کسو د حج د فریضې د ادا کولو لپاره حرکت وکړ که هغوی د خپل سفر د یوې خوا لګښت لپاره (۸۲۱۷۳) روپۍ ټولې کړې وي. نو معلوم کړه چې هر یوه څو

روپۍ برخه ورکړې ده ؟

٨٢١٧٣٠	٢١٥
٦٤٥	٣٨٢٢
١٧٦٧	
١٧٢٠	
٤٧٣	
٤٣٠	
٤٣٠	
٤٣٠	

امتحان: ٢١٥ × ٣٨٢٢ = ٨٢١٧٣٠

(١٠) مثال: که چېرې یو مجاهد په یوه میاشت کښې د روسانو د ټکولو لپاره (٢٤٦٥) د زره مرمۍ ولګوي نو معلومه کړئ چې (٧٨٨٨٠) مرمۍ به په یوه میاشت کې د څو کسو مجاهدینو لپاره کفایت وکړي ؟

٧٨٨٨٠	٢٤٦٥
٧٣٩٥	٣٢
٤٩٣٠	
٤٩٣٠	

امتحان : ۳۲ × ۲۴۶۵ = ۷۸۸۸۰

(۱۱) مثال : په (۱۳۶۵) صندوقونو کې (۹۳۷۷۵۵) مرمۍ د انتقال لپاره ځای په ځای شویدي معلوم کړئ چې په هر صندوق کې څو مرمۍ اېښودل شویدي ؟

۱۳۶۵	۹۳۷۷۵۵
۶۸۷	۸۱۹۰
	۱۱۸۷۵
	۱۰۹۲۰
	۹۵۵۵
	۹۵۵۵

امتحان :

۹۳۷۷۵۵ = ۱۳۶۵ × ۶۸۷

(۱۲) مثال : په (۱۰۱۲) مدرسو کښې د درس ورکولو لپاره (۱۲۴۴۷۶) جلده تفسیر شریف وویشل شول نو معلوم کړئ چې هرې مدرسې ته څو جلده تفسیر شریف رسیږي

١٢٤٤٧٦	١٠١٢
١٠١٢	١٢٣
٢٣٢٧	
٢٠٢٤	
٣٠٣٦	
٣٠٣٦	

امتحان، ١٠١٢×١٢٣ = ١٢٤٤٧٦

(١٣) مثال: د جهان د مسلمانانو خیریه مؤسسې (٦٩٤٥٩٧) افغانۍ د افغانستان د اسلامي انقلاب د معیوبینو له پولي صندق سره مرسته کړیده. که چیرته نوموړې افغانۍ (٣٢٥٢) کسو معیوبینو ته ورکړل شي نو معلومه کړئ چې هر کس ته څو افغانۍ رسیږي او څو افغانۍ باقي پاتې کیږي؟

٦٩٤٥٩٧	٣٢٥٢
٦٥٠٤	٢١٣
٤٤١٩	
٣٢٥٢	
٠١١٦٧٧	
٩٧٥٦	
١٩٢١	

د هر يوه مطلب د هغوی د ګډ ونکو له مجموعې څخه دی.
او په رياضي ژبه کې د هر شي د مجموعې د ښودلو لپاره
د سټ لفظ استعمالیږي .

لکه په پورتنيو مثالونو کښې د ټولګي ، ګروپ
کورنۍ ، رمې ... او داسې نورو لفظونو په عوض
کولای شو چې د سټ لفظ په لاندې توګه وليکو :

د زده کوونکو سټ ، د کور د غړيو سټ ، د
پسونو سټ د مجاهدينو سټ ... او داسې نور

کوم شيان چې په يوه سټ کې ګډون لري
کيدلای شي چې هغه سره همجنسه وي او يا يوله بله
سره په جنس کې فرق ولري .

د لاندې مثالونو څخه کولای شئ چې د سټ په
مفهوم ښه پوه شئ .

١ـ ستاسې د ټولګي د پنځو کسو زده کوونکو

امتحان : (۳۲۵۲ × ۲۱۳) + ۱۹۲۱ =

۶۹۲۶۷۶ + ۱۹۲۱ = ۶۹۴۵۹۷

(۱۴) مثال : د (۴۷۹۳۹۱۳۴) عدد پر (۶۳۵۳)

عدد باندې دا رنګه ویشو :

۶۳۵۳	۴۷۹۳۹۱۳۴
۷۵۴۵	۴۴۴۷۱
	۳۴۶۸۱
	۳۱۷۶۵
	۲۹۱۶۳
	۲۵۴۱۲
	۳۷۵۱۴
	۳۱۷۶۵
	۵۷۴۹

صفر په خارج قسمت کښي :

(۱) مثال:

۶	۶۵۴
۱	۶ ↓
	۵

په پورتنی مثال کښې د تقسیم له لومړۍ مرحلې
نه وروسته د تقسیم په عملیه کې له یوه مشکل سره
مخامخ کیږو ځکه چې د مقسوم یو رقم یعني د (۵) عدد
موښکته راوړو دا عدد له مقسوم علیه یعني د (۶) عدد
نه کوچنی دی. نو اوس د تقسیم د قانون پر اساس د
(۵) د عدد په عوض کښې د خارج قسمت ښی خوا ته یو
صفر زیاتوو.

```
۶۵۴ | ۶
۶   | ۱۰
----
 ۵
```

اوس نو د مقسوم بل رقم (۴) عدد را ښکته کوو

```
۶۵۴ | ۶
    | ۱۰
----
 ۵۴
```

څرنګه چې نوی مقسوم یعني د (۵۴) عدد له
مقسوم علیه څخه لوی دی نو د تقسیم عملیه د نورو
مثالونو په څېر سرته رسوو.

```
٦٥٤ | ٦
٦   | ١٠٩
----
 ٥٤
 ٥٤
----
```

امتحان: ١٠٩ × ٦ = ٦٥٤

(٢) مثال:

```
١٢٧٦٨ | ٤٢
١٢٦ ↓ | ٣
-----
 ١٦
```

په دې مثال کې موهم کله چې له تفریق څخه وروسته یو رقم د مقسوم (٦) موراښکته کړ. نوی مقسوم (١٦) په لاس راغی. څرنګه چې د (١٦) عدد له مقسوم علیه (٤٢) څخه کوچنی دی. لدې کبله د هغه په عوض د خارج قسمت ښي خوا ته یو صفر زیاتوو. وروسته د مقسوم بل عدد (٨) ښکته راوړو او د تقسیم عمل ته دوام ورکوو.

۱۲۷۶۸ | ۴۲
۱۲۶ | ۳۰
۱۶

۱۲۷۶۸ | ۴۲
۱۲۶ | ۳۰۴
۱۶۸
۱۶۸
۰

امتحان: ۳۰۴ × ۴۲ = ۱۲۷۶۸

(۳) مثال:

۱۸۱۲۶ | ۱۸
۱۸ | ۱
۱

په پورتني مثال کښې د مقسوم له رقمو څخه يو رقم يعنې د (۱) عدد سنکته را وړو، وګورو چې د (۱) عدد د مقسوم عليه څخه کوچنی دی نو په ځای يې د خارج قسمت په برخه کښې صفر ليکو. او وروسته د مقسوم بل عدد (۲) را سنکته کوو.

```
۱۸۱۲۶ | ۱۸
۱۸    |----
----- | ۱۰
 ۱۲   |
```

د (۲) عدد د را ښکته کولو څخه وروسته بیا هم
نوی مقسوم د (۱۲ عدد) له مقسوم علیه څخه کوچنی
دی نو ځکه د (۲ عدد) په ځای هم په خارج قسمت
کې صفر ږدو او د مقسوم بل رقم (۶ عدد) ښکته
راوړو او د تقسیم عمل ته دوام ورکوو.

```
۱۸۱۲۶ | ۱۸
۱۸    |------
----- | ۱۰۰۷
  ۱۲۶ |
  ۱۲۶ |
----- |
      |
```

امتحان: ۱۸۱۲۶ = ۱۸ × ۱۰۰۷

(۴) مثال:

```
۶۲۴۲ | ۲۴
۴۸   |-----
---- | ۲۶
۱۴۴  |
۱۴۴  |
---- |
   ۲ |
```

پهٔ پورتني مثال کې د تقسیم د عملیې د دوو مرحلو د اجراء کولو څخهٔ وروسته د مقسوم د رقمو څخهٔ د (۲ عدد) مولاندې راوړ، او لیدل کیږي چې نوی مقسوم (۲ عدد) له مقسوم علیه (۲۴) څخهٔ کوچنی دئ. نو بیا هم د هغهٔ پرځای د خارج قسمت د رقمو ښی خواتهٔ یو صفر زیاتوو.

```
٦٢٤٢ | ٢٤
 ٤٨  |-----
-----| ٢٦٠
 ١٤٤ |
 ١٤٤ |
-----|
   ٢ |
```

اوس وینو چې د (۲) عدد نهٔ پرته د مقسوم ښي خواتهٔ کوم بل رقم موجود ندئ ترڅو هغهٔ ښکتهٔ راوړو او د تقسیم عملیې تهٔ دوام ورکړو. نو د تقسیم عملیه دلته ختموو او د (۲ عدد) باقي پاتې کیږي.

امتحان: (۲۶۰×۲۴) + ۲ =

٦٢٤٠ + ٢ = ٦٢٤٢

مثال (٥):

٥٤	١٨٩٠٠٠
٣٥	١٦٢
	٢٧٠
	٢٧٠
	×

په پورتني مثال کې د تقسيم د عمليې د دوو مرحلو ترسرته رسولو وروسته د مقسوم د رقمونو څخه د صفر عدد مو لاندې راوړ او داچې صفر د مقسوم عليه (٥٤) څخه کوچنی دی بيا هم د هغه په ځای د خارج قسمت ښی خواته يو صفر زياتوو او بيا د مقسوم دوهم صفر کښته راوړو.

٥٤	١٨٩٠٠٠
٣٥٠	١٦٢
	٢٧٠
	٢٧٠

